مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: مایکل روبین
ژباړن: واحد فقيري

۲۰۱۸/۰۸/۳۰

# متحده ایالاتو په افغانستان کي خپل چانس بايللی دئ

مشهور امريکايي سياسي مبصر ښاغلی مایکل روبین د اګسټ پر ۲۴ مه په واشنګټن ايګزامينر کي ليکي: قريب دوې لسيزي پخوا ما لومړی سفر افغانستان ته وکړ. د ۱۹۹۷ د مي په مياشت کي زه مزار شريف ته ولاړم، خو په همدې وخت کي طالبانو پر مزار شريف باندي حمله وکړه، او زه مجبوره سوم چي په تېښته ځان ازبکستان ته ورسوم. خو دري کاله وروسته، زه بېرته افغانستان ته ور ستون سوم، پدې وخت کي طالبانو ٪۹۰ فيصده خاوره نيولې وه، او زه د طالبانو مېلمه وم. هله د کلنټن حکومت د طالبانو سره په جدي مذاکراتو بوخت وو، او مېرمن ليلي هيلمز، چي د سيا (سي ای اې) سره ئې نژدې اړيکي لرلې، د طالبانو د رسميت پېژندلو لپاره ئې کمپين کاوه. زه له خيبر پاس څخه واوښتم، او جلال آباد، غزني، او کندهار ته ولاړم. پر لاري مي د عامه افغانانو سره مرکي کولي. پدې وخت طالبان په ځينو ځايونو کي شپږ کاله او په بعضو نورو ځايونو کي دري کاله حکومت کړی وو. په عمومي توګه افغانانو راته وويل چي دوی د طالبانو هر کلی کړي دئ، ځکه هغوی ثبات او امنيت غواړي، او د مخکنيو مجاهدينو قومندانانو څخه ئې بدي او وحشتناکه خاطرې لرلې. خو همدې افغانانو راته وويل چي طالبان هم کرار کرار د پخوانيو مجاهدينو غوندي ظالمان کېږي. په همدې وخت کي، زه دې نتيجې ته ورسېدم چي طالبانو د خلګو ملاتړ له لاسه ورکړی دئ، او په يوه پوف رانسکوره کېږي.

د طالبانو د حکومتوالي ناکامي، د هغوی اداري فساد، او استبداد هغه دلايل ول چي د دوی حکومت د سپتمبر تر حملې راوروسته ښيخي ژر رنګ سو. وروسته د بن کانفرانس داير سو، او حامد کرزی وټاکل سو.

پدې وخت کي، د امريکا ستراتيژي د زلمي خليلزاد په لاس جوړه سوې وه، او هغه د سپتمبر تر حملو مخکي د طالبانو سره د بزنس او کاروبار رابط لرله. د امريکا دا ستراتيژي پر يوه قوي جمهوري رياست باندي راڅرخېده، او هدف ئې د جنګسالارانو کمزوري کول ول. پدې وخت کي، افغانستان ملي اردو نه لرله، او د ټوپکسالارانو سره ئې دږغري نه سوای وهلای. خو يو قوي جمهورريس کولای سوای چي غښتلي وزيران او واليان مقرره کړي، او وارلاډان کرار کرار له خپل ځايونو څخه ليري کړي.

د امريکا همدې ستراتيژی په لنډه موده کي موثره واقع سوه، خو اکثره افغانان ئې په قهر کړل. ځکه افغانان عموما د مرکزي حکومت په باره کي شکمن دي. هغوی داسي ګورنران غوښتل چي د دوی په شان وي. د دوی په خبر کالي واغوندي، او خبري وکړي. هغوی داسي واليان نه غواړي چي له نورو ځايونو څخه ورغلي وي. د خليلزاد په ستراتيژي کي همدا لويه کمبودي وه. بر علاوه د حامد کرزي خويشخوري او اداري فساد افغانان لا په قهر کړ.

واقعيت دا دئ چي متحده ايالاتو او ناټو نور اشتباهات هم وکړل. د مثال په توګه، که څه هم جرمني په افغانستان کي سمبوليک حضور لاره، خو د المان د شتون تر کټي تاوان زيات وو. ترکيي د خپل ځان لپاره کار کاوه، د ديموکراسی او ښه حکومتوالي پر ځای ئې د اسلامي اخوت او ترک تباره سياست حمايت کاوه .

تر ټولو ستره اشتباه د جمهورريس اوباما تقسيم اوقات وو. هغه په ۲۰۰۹ کي اعلام وکړ چي دوه کاله وروسته به له افغانستان څخه خپل عسکر راوباسي. د اوباما دې اعلان، طالبان پدې قانع کړل چي د متحده ايالاتو خروج ته انتظار ايستلای سي. د اوباما په دوران کي، په افغانستان کي د موفقيت لپاره هيڅ ډول تعهد نه وو موجود. د اوباما دوران، د فرصتونو د ضايع کولو لسيزه وه .

څرنګه افغانستان فکس کړو؟

ايا يو نوی جنرال يا قومندان به موجوده پرابلمونه سمبال کړای سي؟ نه. مګر دا چي د امريکا په اوسنی ستراتيژي کي بنيادي بدلون راولي. واقعيت دا دئ چي د واشنګټن په سياسي ماحول کي يو نوع غرور او تکبر موجود دئ، او هر حکومت چي واشنګټن ته راسي، دا باور لري چي هر څه بايد له سره راشروع کړي، او پخوانی تجربي او د عبرت درسونه بايد ټول محوه کړي. نظامي تحليلګران د نويو پلانونو په جوړولو بوخت سي، او ډيلوماتان د نويو ملګرو د پيدا کولو په لټه کي سي. او هر څوک غواړي چي يو نوی ډيلوماتيک سحر او جادو کشف کړي، يو نوی ډيلوماتيک طلسم پيدا کړي. د متحده ايالاتو هر نوي حکومت د افغانستان لپاره زياتي پيسي خامخا غواړي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

څه چي پدې تحليلونو کي ورک او نيام وي، هغه دا چي د افغانستان ديموګرافيک او نسلي بدلون ته هيڅ توجه نه کيږي. قريب ٪۵۰ فيصده افغانان د سپتمبر د يوولسمي راوروسته زيږيدلي دي. په داسي حال کي چي د سپتمبر تر يوولسمي مخکي زياتو افغانانو طالبانو ته د ظالمو حاکمانو په سترګه کتل، او له هري لاري يې غوښتل چي د طالبانو پر ځای بل څوک راولي. اما د نن ورځي افغانان د افغان حکومت او امنيتي قواوو ته د فاسدو او ظالمو واکمنانو په سترګه ګوري. د مثال په توګه، کله چي د افغان حکومت، امريکا- ناټو، او يا نور ډونران غواړي چي کوم سړک جوړ کړي، د همدې سړک لپاره مځکي څو ځله غصبيږي، او عموما دا غصب د اشرف غني د حکومت فاسد او مقتدر عالي رتبه مامورين او نظامي قومندانان ئې کوي. د کابل د حکومت دا فساد محلي خلګ دېته مجبوره کوي چي طالبانو ته رجوع وکړي. دا خبره د دې مانا نه لري چي طالبان به په حکومت کولو کي تر پخوا کاميابه وي، بلکي دا د دې مانا لري چي هغوی پدې موفقه سوي دي چي خپل تصور او ښه بدله کړي، او افغان حکومت خپل مشروعيت او شهرت له لاسه ورکړي .

اوس نو، دا د متحده ايالاتو لپاره څه عواقب لري؟ د هغوی کسانو او قوتونو لپاره څه معنی لري چي د طالبانو د استبداد مخالف دي، او هم د پاکستان د تروريستي اړيکو په اړه شکمن دي؟ دا واقعيت هم بايد په پام کي ونيسو چي افغانان تر بين المللي ډونرانو د اداري فساد په برخه کي ډير حساس دي. او د عادي افغانانو په تناسب خارجيان د اداري فساد په برخه کي ډير زغم لري. د دې عظيم مشکل علاج دا دئ چي نه يوازي بايد د افغان د حکومت فساد او رشوتخوري افشا سي، بلکي د طالبانو فساد هم بايد رابرسيره سي. افغانان به يوازي هله د طالبانو له حمايت څخه لاس پر سي چي هغوی پدې پوه سي چي د کابل فساد چارواکي نور رشوت نه اخلي او په خارج کي پيسي نه پټوي. په افغانستان کي د کاميابی لپاره بايد طالبان په نظامي ساحه کي مات سي، بله چاره نشته. او که چيري د طالبانو ماتول د پاکستان د استخباراتو سره جنګ کول وي، بايد دا کار هم وسي .

د سپتمبر د يوولسمي تر حملو راوروسته، متحده ايالاتو په افغانستان کي د موفقيت لپاره يو ډير ښه فرصت درلود، خو خرابو ستراتيژيو او ساده او سطحي ډيلوماسيو هر څه خراب کړل. له هغه وخت راهيسي د متحده ايالاتو هر حکومت د کاميابي لپاره صرف تشي خبري او وعدې کوي. هغوی د افغانستان د مشکلاتو د بنيادي حل پر ځای سرسري او کازمايتک بدلونونو ته مخه کړې ده. اوس چي جنرال نيکلسن ځي، او جنرال استين ميلر راځي، هلته داسي څه نه سته چي، هغو ٪۵۰ فيصده افغانانو ته چي د سپتمبر د يوولسمي څخه راپدې خوا زيږدلي دي، دا وښيي چي نوی افغانستان به د مجاهدينو او طالبانو تر دوران ښه او بهتره وي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ